محمد ایاز نوري آزادي

۲۰۱۷/۱۰/۱۶

# مېړني وو، چې یادېږي

دا مقاله ما د ۲۰۰۳ز کال په اوړي کښې د ګران قلمي ملي مبارز انیس په هکله لیکلې او د (ارمانِ افغان) په مجله کښې چاپ شوې وه، اوس دلته د افغان د تاریخ ښېرنوال شاغلي احسان لمر د وروستی لیکنې «محی الدین انیس قهرمان واقعاً ملي» په استقبال کښې او د هغه شهید د ارواح د خوښي لپاره، دغه په عین د محتواء محترمو افغانانو ته تقدیم کېږي.
همدلته ښېرنوال شاغلي لمر صاحب ته عرض کوم، چې زموږ د لیکنو ورته والی یا مشابهت د مرحوم انیس یاد ته د عینو عنوانو په انتخاب کښې پیل کېږي. تاسو مظلوم وژل شوي انیس ته د ملي قهرمان خطاب کړی او ما ۱۴ کاله پخواء د مقالې په عنوان کښې انیس یو مېړه ذکر کړی دی.
د ملي مبارز انیس په حق کښې د دوو افغان بادشاهانو دوه کاملاً متضاد دریزونه او عملي اقدام:
۱- د هېواد د استقلال د حصول سر کوماندر اعلیحضرت غازي امیر امان الله خان د خپل واک پر وخت پخپله خدای ورکړي تواضع او ژوره ملي مینه د انیس دفتر ته پخپله ورځي، هلته دا وطن دوست ادیب او خبریال په شا ټپوي او ورته وائي، زه درسره یم... کار ته دي دوام ورکړه!!
۲- بادشاه نادر خان د خپل واک پر وخت انیس د وطن دوستي په ګناه زندان ته اچوي او په حقیقت کښې هم هغه وخت دا ارجمند شخصیت وژني...؟!.


ARMAN_E_AFGHAAN Pagina 3 Zomer 2003 Nummer 11 / تابستان ۲۰۰۳م صفحه سوم شماره یازدهم آرمان افغان

د نوري لیکنه

## مېړني ؤ، چه یاد یږي

غلام محیٖ الدین «انیس»

په افغانستان کښې د لومړنۍ خپلواکې خپرونې
بنسټ اېښودونکۍ او مسوول مدیر

مرحوم غلام محي الدین (انیس) د افغانستان د غزني ولایت د مقر په ولسوالۍ کښې زیږیدلی دی. په ماشوم توب کښې کوم وخت چه امیر عبدالرحمن خان پاچا ؤ، انیس د خپل نیکه سره چه د سترګو ډاکتر ؤ، د مصر هیواد ته ولاړ. د دوی کورنۍ او پلار ئې په مصر کښې په کسب او تجارت بوخت شول. او کوم وخت چه امیر عبدالرحمن خان د غزني د اندړو پر قام او مشهور آزادي خوا (ملا مشك عالم) د ظلم او اختناق لړۍ جاري کړه، دې انیس کورنۍ غوره وګڼله چه په مصر کښې هستوګنې ته دوام ورکړي. په خپله انیس په دې وقفه کښې وکولای شو، چه د افغان سید جمال الدین د مکتب د روح او د هغه بزرګوار د زده کوونکو څخه ډیره علمي فائده خاتنه حاصله کړي، او خپله زده کړه تر یوې

**********************

غلام محی الدین انیس:
په افغانستان کښې د لومړنی خپلواکې خپروني بنسټ اېښودونکی او مسوول مدیر

مرحوم غلام محی الدین (انیس) د غزني ولایت د مُقر په ولسوالی کښې زیږېدلئ دی. په ماشوم توب کښې کوم وخت، چې امیر عبدالرحمن خان پاچا وه، انیس د خپل نیکه سره، چې د سترګو ډاکټر وه د مصر هېواد ته ولاړ. د دوی کورنی او پلار یي په مصر کښې په کسب او تجارت بوخت شول او کله، چې امیر عبدالرحمن خان د غزني د اندړو پر قام او مشهور آزادي پال ملا مشک عالم د ظلم او اختناق لړی جاري کړله، د انیس کورنی غوره وګڼله، چې په



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مصر کښي هستوګني ته دوام ورکړي. پخپله انيس په دې وقفه کښي وکولای شو، چې د افغان سيد جمال الدين رحمت الله عليه د مکتب د روح او د هغه بزرګوار د زده کوونکو څخه ډېره علمي فايده ځانته حاصله کړي او خپله زده کړه تر يوې ټاکلي کچې پورې لوړه کړي. محی الدين د ماشومتوب او زلميتوب پړاو په جلا وطنی او خپل هېواد سره د تودې مينې کښي تېر کړل. د ليکوال شاغلي غلام عمر شاکر په قول د انيس پلار به پخپل زوی ډېر پام کاوه او همېشه به يې پلارنی هېواد ورته وريادوه او ورپېژنده. هغه په مصر کښي تل افغانستان يادوه او تل يې کوښښ کاوه، چې بېرته هېواد ته راستون شي، تر څو خپل وطن ته يو خذمت وکړي. د اعليحضرت غازي امير امان الله خان په پاچا کېدو د مطبوعاتو په ساحه کښي پرمختګ راڅرګند شو، انيس د وطن حالات څارل. په همدی وخت کښي ۱۳۰۰ل کال اماني دولت محمد اسماعيل خان (افندي) د مصر هېواد ته واستاوه، تر څو يوه د چاپ خونه وپېري او افغانستان ته ئې راوړي. افندي په دې سفر کښي د انيس سره پېرندنه کېږي او د انيس آرزو بيرته راتګ خپل هېواد ته ستائي. انيس افغانستان ته په رارسېدو د هرات ولايت ته ولاړ او د مولانا سعد الدين خان (تفتازاني) په جومات کښي مېشته شو. په همدې وخت کښي هغه د هېواد د يوه مشهور ليکوال او اديب غلام سرور خان (جويا) سره معرفي شو او د دغه پياوړي اديب او وطن دوسته افغان څخه يې ډېر څه زده کړل. انيس په عين وخت کښي نورو ځوانانو او طالبانو د علم ته د ټولنيزو تعليمونو او عربي ژبې زده کړه هم په غاړه واخيسته. په همدې وخت کښي هغه يو کتاب د (نداء طلبه معارف و حقوق ملت) تر عنوان لاندې وليکله، چې د هرات په چاپي مطبعه کښي چاپ شو. په ۱۳۰۳ ل کال کوم وخت، چې افغان پاچا غازي امير امان الله خان د مطبوعاتو لومړنی آزاد قانون توشيح کړ، محی الدين کابل ته راغی او د (ده افغانانو) د سيمې د غوړيو پلورولو په سرای کښي ئې واړول. افغان ليکوال مرحوم غلام عمر شاکر د انيس په باب ليکي: « هغه دم د انيس ټوله پانګه يو څو کتابونه او عربي مجلې وې. که څه هم انيس په مصر کښي راستر شوی وه، لاکن د خپلې مطالعې او زيرکی په واسطه ئې ځان د پلارني هېواد د بېرته پاتې توب او د هغه د علتونو سره آشنا کړی وه، نو د ده هدف فقط د قام بيداري د خپرونو او مطبوعاتو له لارې څخه وه. د دې ټولو عواملو پر بنسټ انيس پرېکړه وکړله، چې د يوې خپروني په نشر لاس پورې کړي. هم هغه وه، چې د ۱۳۰۶ل کال د ثور د مياشتي په ۱۵ نېټه غلام محی الدين انيس د افغانستان په تاريخ کښي لومړنۍ خپلواکه نه حکومتي جريده د (انيس) په نوم په دوو کاغذي پاڼو کښي د کاربن پيپر په کاپيو کښي د ۴۵ ګڼو په شمېر له چاپه راويستله.» دا جريده په لومړنيو ۵ کلنو کښي د ۲۰ په ۲۸ سانتي مترو په انداز کښي له څلورو تر دولسو مخونو پورې چاپ ته ورکول شوې، چې هرې صفحې دوه ستونه لرل. د جريدې محتواء او موضوعات د وطن سره مينه او د ملي احساساتو بيانول، د هېواد د خپلواکي ساتل او د اروپائي هېوادو د نويو اختراعاتو او اکتشافاتو نشرول ول. د انيس د ورځپاڼي د پنځمې ګڼي په لومړي مخ کښي، چې د ۱۳۰۶ل کال د ثور د مياشتي په ۱۵ نېټه له چاپه راوتله، داسی ليکل شوي وو: «انيس د مطبوعاتو په عالم کښي يو نوی زېږېدلی ماشوم دئ، چې غواړي په فارغ وخت کښي ستاسو ملګری، د کار په ساعتونو کښي مرستيال، په سختو شېبو کښي ستاسو سلاکار، د غم او کړاو په وخت کښي ستاسو اورېدونکی او په فکري او عملي ژوند کښي د ټولو وګړو او خاصتاً د لوستو کسانو او مامورينو يار او دوست وي... .» همداء راز د دولتي دستګاه نيګړتياوې او په اداري چارو نيوکي ئې هم نشر ته ورکولې. مسوول مدير په خپلې ځانګړې پانګې يو چاپ خونه هم جوړه کړله. انيس به پخپل لاس مقالي او اخبار ليکل، ژباړې به ئې کولې، بيا به ئې توري په ماشين کښي نظمول او چاپ ته به ئې ورکول. جريدې به ئې پخپله بازار ته راوړلي او لاس په لاس به ئې خرڅولي. افغانانو به هره ورځ محی الدين په بازار کښي ليده او د ده زيار او خواري به ئې د اخبار د چاپولو لپاره حس کوله او د هغه سره به ئې مينه نوره هم ډېرېدله. کومه ورځ به، چې د انيس ورځپاڼه له نشر څخه پاتې کېدله، اعلان به ئې د کابل د سينماوو په پرده د خلکو د خبرتيا لپاره راڅرګندېده.

## په لومړي ځل د انيس د جريدې د مصادره کېدو بهير

د ۱۳۰۷ل کال د حمل د مياشتي په ۲۱ نېټه مسوول مدير محی الدين انيس پخپله نشريه کښي يوه مقاله د (پاسبان بيدار خواب) تر عنوان لاندې د (س . دين) په قلم چاپ ته ورکړله. په دې مضمون کښي په سختو او سريعو الفاظو او جملو د کابل د پوليسو د امنيي د قوماندانئ پر اړونده مامورينو او افسرانو نيوکي شوې وې. دې مقالي د نوموړې اداري کار کوونکي زيات په غصه راوستل، ځکه هغه وخت دغه مامورين د مطبوعاتو د انتقادي اړخ سره آشنا نه ول. هغه وه، چې دوی جريده په لاس د بادشاهي د مقام وکيل محمد ولی خان دروازي ته د شکايت په رسم ورغلل. او نورو د پوليس افسرانو د انيس دفتر او ديوان وتړل او انيس ئې لاس تړلی جيل ته بوت. خلک، چې ډېری ئې لوستي کسان او دولتي مامورين ول، د دغې پيښي په خبرېدو د محی الدين انيس په پلوی سړکونو ته راوتل او لاريون ئې پيل کړ. کوم وخت، چې دا خبر ارګ ته ورسول شو، د شاهي مقام وکيل پخپله د معذرت د تقديم په رسم دغه لاريون کوونکو ته ورغی او انيس ئې هم له بنده خوشي کړ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ



د اماني دولت د شاهي مقام وکیل شهید محمد ولي خان

«ویاړ دي وي د نن څخه ۹۰ کاله پخواء په داسي ملتپال افغان شاهي دولت، سروال ئي پاچا غازي اعلیحضرت امیر امان الله خان او وکیل ئي شهید محمد ولي خان...زه لیکونکی فکر کوم، په دغه نېټه زمونږ ارجمند غازي پاچا د اروپا په سفر بوخت وه او دا اجراعات ئي وکیل کړي دي.»

او پخپله مسوول مدیر د جریدې په ۲۸ ګڼه کښي په لیکلي توګه له تولو مظاهرچیانو څخه د هغه د دفاع په خاطر مننه او قدر وکړ. په دي توګه په حقیقت کښي د انیس او خلکو اړیکي نوره هم مضبوطي شولي او پس له دې پېښي نه جریدې نور هم په خلاص لاس د خلکو غوښتني او نیوکي نشر کولي او مسوول مدیر ته چا څه نشو ویلای. د دولت کار کوونکو به د کار د لا ښه والي لپاره د انیس سره مالي مرستي کولي. د اماني دولت په له منځه تللو او د کلکاني سقاوي حبیب الله د حکومت په استقرار سره د انیس د جریدې دفتر هم وترل شو، د مطبوعاتو قانون مات شو. محی الدین څه موده په کابل کښي پاتي شو او بیا د پکتیا ولایت ته کډه شو، هلته هغه د ګستنز (Gastanees) د ماشین په واسطه خپله نشریه چاپ کوله. د نادر خان په پاچا کېدو سره انیس ونشوکړای په خپلواکه توګه کار وکړي، ځکه د نادر شاه د وخت تول نشرات د پاچا د دیکتاتوری په سیاست کښي ډوب شول او د مطبوعاتو قانون هم لغو شو. سره د دغه حال هم انیس یو څو خپلي نشرئي چاپ ته ورکړلي خو پس له یو څه مودې جریده مصادره شوله او محی الدین خان زندان ته واچول شو. د نادر خان په واکمنی کښي د کابل روښان فکره خلک په دوو برخو سره جلا شول.هغوی، چي محافظه کار ول د دولت هره فیصله ئي منله او انقلابیونو د سخت نظامي او دیکتاتوري چلند له کبله د انیس څخه غوځ ملاتړ او دفاع نشوه کولای. د انیس مادینه او یو زوی او لور ئي د کابل د مراد خاني په سیمه کښي د یوه فقیرانه ژوند سره لاس او ګریوان وو. د وخت حکومت د دي مظلوم ادیب دواړه اولادونه د ښوونځي څخه هم وشړل.انیس په زندان کښي د (سل) په مرض اخته شو، خو حکومت بیا هم د هغه د خوشې کولو امر صادر نکړ. دولت د خلکو د ذهنیتونو د مشغوتیا لپاره د انیس د جریدې د نشرولو امتیاز ځانته واخیست او دا جریده ئي دولتي کړله. د نادر شاه د وژل کېدو څخه پس د محمد ظاهر په پاچا کېدو سره بیا هم انیس په زندان کښي شپې سبا کولي او جریده ئي د دولت مال وه. بلاخره افغان مظلوم مبارز د مشروطیت د غورځنګ د ارمانونو یو متعهد، ادیب، لیکوال او د افغانستان په ترقي مین غلام محی الدین خان انیس په کال ۱۳۱۷ل کښي کوم وخت، چي ظاهر خان پاچا او تره ئي محمد هاشم خان لومړی وزیر وه، د زندان د تورو متو تر شاه ځان حق ته تسلیم کړ. (یاد دي تل وي، لار دي دوام ولري) د پاچا او صدراعظم په امر اړونده مامورینو د انیس جسد په پټه توګه د ابهام په شکل کښي له زندان څخه یو نا څرګند ځای ته انتقال او تر خاورو لاندي کړ. یو افغان معاصر لیکوال د انیس د ژوند لیک اړوند د (روزنامه نگاری که قلمش را شمشیر ساخته بود) تر عنوان لاندي داسي لیکي: «که اوس د انیس د یواځني ژوندي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

پاتي زوی ښخه پوښتنه وکړې، چي پلار دې ښنګه وفات شو؟ سترګي ئي سرې شي او وائي، نه پوهېږم. او که ئي وپوښتي، چي پلار دې کله وفات شو؟ رنګ ئي سور شي او وائي، نه پوهېږم. بیا ئي چي وپوښتي، چي د پلار قبر دې چېرته دئ؟ بیا هم ژړا پرې راشي او وائي، نه پوهېږم. او بیا ئي، چي وپوښتي، پلار دې چېرته مړ شو؟ نو په چیغو شي او په تکرار سره وائي، په زندان کښې، په زندان کښې».
د دې همتناکه افغان لیکوال او ژورنالیست په باب هیڅ په افغانستان کښې د حاکمې نادري استبداد پاله کورنی له ډاره په ښکاره څه نشو ویلای. لیکوال تنویر بیا لیکي، وریسي په کال ۱۳۴۴ل کښې په لومړي ځل د انیس پخېل اخبار کښې یو لنډې څو خبرې د هغه د ژوند په باب نشر شولې او د انیس د کال کتاب په دولتي مطبعه کښې چاپ شو لاکن د هغه د ژوند هغه اصلي حقیقت په کښې په بشپړ ډول ذکر شوی نه وه.

### د انیس لیکلي آثار

- ندای طلبه معرف یا حقوق ملت، دا کتاب انیس د غازي امیر امان الله خان د بادشاهي د وخت د پولیسو د کوماندېر شجاع الدوله په تشویق ولیکه. دا کتاب په اصل کښې یو رمان دئ، چي د خپلواکي او قانون په هکله بحث کوي.
- بحران و نجات، په دې کتاب کښې مرحوم انیس د اماني دورې په وروستیو پېښو رڼا اچولې او بیا ئي د کلکاني حبیب الله د بغاوت او د یو بل سیاسي نظام د راتګ په هکله خپل نظریات او یاداشتونه لیکلي دي.

## اخځلیک

د ( تاریخ و روز نامه نگاری افغانستان) کتاب، مولف ډاکټر محمد حلیم تنویر، ۸۸ - ۸۹ - ۹۰ - ۹۱ - ۹۲ مخونه

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ